حرمين
رئاسة الشؤون الدينية
بالمسجد الحرام والمسجد النبوي

# د پيغمبر صلى الله عليه وسلم د لمانځه کيفيت

كَيْفِيَّةُ صَلَاةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

بشتو

پښتو

قدرمن شيخ صاحب
عبدالعزيز بن عبد الله بن باز

ⓒ**جمعية خدمة المحتوى الإسلامي باللغات ، ١٤٤٦هـ**

بن باز ، عبدالعزيز
كيفية صلاة النبي ؟ - بشتو. / عبدالعزيز بن باز ؛ جمعية خدمة المحتوى الإسلامي باللغات - ط١. .- الرياض ، ١٤٤٦هـ
١٩ ص ؛ ..سم

**رقم الإيداع: ١٤٤٦/١١٩٣٨**
**ردمك: ٠-٥٥-٨٥١٧-٦٠٣-٩٧٨**

# كَيْفِيَّةُ صَلَاةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

# د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د لمانځه کیفیت

لِفَضِيلَةِ الشَّيْخِ العَلَّامَةِ
عَبْدِ العَزِيزِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بَازٍ
غَفَرَ اللَّهُ لَهُ وَلِوَالِدَيْهِ وَلِلْمُسْلِمِينَ

قدرمن شیخ صاحب
عبدالعزیز بن عبد الله بن باز

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

## د پېغمبر صلى الله عليه وسلم د لمانځه كيفيت

الحمد لله وحده، والصلاة والسلام على عبده ورسوله نبينا محمد وآله وصحبه، أما بعد:-

دا د پېغمبر صلى الله عليه وسلم د لمانځه د كيفيت بيانولو په اړه لنډې خبرې دي، چې ما غوښتل هر مسلمان؛ نارينه او ښځېنه ته يې وړاندې كړم، ترڅو يې هر لوستونكى هڅه وكړي چې د طريقې پيروي يې وكړي لكه چې فرمايي:

(صَلُّوا كَمَا رَأَيْتُمُونِي أُصَلِّي) ژباړه: (تاسو داسې لمونځ وكړئ لكه ما چې ګورئ لمونځ كوم).[1] او دا دی لوستونكي ته بيانيږي:

١ - اودس بشپړوي، د الله تعالى د حكم سره سم اودس كوي لكه چې فرمايي:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا قُمْتُمْ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ فَٱغْسِلُواْ وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى ٱلْمَرَافِقِ وَٱمْسَحُواْ بِرُءُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى ٱلْكَعْبَيْنِ...﴾.

ژباړه: (اې هغو كسانو چې ايمان يې راوړى! كله چې تاسو لمانځه ته پاځيږئ، نو تاسو خپل مخونه او خپل لاسونه تر څنګلو پورې ووينځئ او پر خپلو سرونو مسح وكړئ او تر

---

[1] بخاري په: (605) روايت كړى.

ګیتو (بنګرو) پورې خپلې پښې (ووینځئ). [المائدة سورت: ۶آیت]. آیت.

او د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا وينا:

(لا تُقْبَلُ صَلاَةٌ بِغَيْرِ طُهُورٍ) ژباړه: (له طهارت (اودس) پرته لمونځ نه قبلیږي).[1]

او هغه کس ته د رسول الله صلى الله عليه وسلم وينا چې ناسم لمونځ يې کړی و:

(إِذَا قُمْتَ إِلَى الصَّلاَةِ، فَأَسْبِغِ الْوُضُوءَ) ژباړه: (کله چې لمانځه ته پاڅېدې نو بشپړ اودس وکړه).[2]

۲ - لمونځ کوونکی چې هر ځای کې وي قبلې يعنې کعبې شريفې ته په ټول بدن سره مخ کوي، په داسې حال کې چې په زړه کې به يې د هغه وخت د لمانځه کولو اراده کړې وي؛ هغه که فرض لمونځ وي اويا نفل، او په ژبه به نيت نه وايي؛ ځکه چې په ژبه يې ويل روا نه دي، بلکې دا يو بدعت دی او رسول الله صلى الله عليه وسلم او د هغه صحابه کرامو په ژبه نه دی ويلی، او مخې ته به ستره ږدي چې لمونځ ورته وکړي، برابره خبره ده که امام وي، يا منفرد، او قبلې ته مخ کول د لمانځه لپاره شرط دی، پرته له يو څو ښکاره مسائلو څخه چې د علماوو په کتابونو کې يې په اړه وضاحت شوی دی.

۳ - د : الله اکبر په ويلو سره تحريمه تکبير کوي، او د

1 مسلم، په (224) شمېره روايت کړی.
2 بخاري په: (5782) شمېره روايت کړی.

سجدې ځای ته ګوري.

۴ - د تکبیر پر مهال خپل لاسونه د اوږو او یا غوږونو برابر پورته کوي.

۵ - لاسونه پر سینه ږدي، ښی لاس پر چپې پنجې او مړوند د پاسه، ځکه چې همداسې د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ثابت شوي دي،

۶ - د استفتاح دعا ویل سنت ده، چې په لاندې ډول ده:

(اللَّهُمَّ بَاعِدْ بَيْنِي وبيْنَ خَطَايَايَ، كما بَاعَدْتَ بيْنَ المَشْرِقِ والمَغْرِبِ، اللَّهُمَّ نَقِّنِي مِنَ الخَطَايَا كما يُنَقَّى الثَّوْبُ الأبْيَضُ مِنَ الدَّنَسِ، اللَّهُمَّ اغْسِلْ خَطَايَايَ بالمَاءِ والثَّلْجِ والبَرَدِ) ژباړه: (اې الله زما او زما د ګناهونو تر منځه داسې لرې والی راوله لکه څرنګه دې چې ختیځ له لویدیځ څخه لرې کړی، اې الله ما له ګناهونو څخه داسې پاک کړه لکه سپینه جامه چې له خیرو څخه پاکیږي، اې الله ما له ګناهونو څخه په اوبو، واورو او ګلۍ سره ومینځه).[1]

او که یې غوښتل نو د دې پر ځای دې ووایي:

(سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وبِحَمْدِكَ، وَتَبَارَكَ اسْمُكَ، وَتَعَالَى جَدُّكَ، ولَا إلَهَ غَيْرُكَ) ژباړه: (اې الله! پاکي او ستاینې یوازې تالره دي او نوم دې مبارک دی، شان دې لوړ دی او له تا پرته بل معبود

[1] بخاري په: (۷۴۴) شمېره، او مسلم په: (۵۹۸) شمېره روایت کړی دی.

نشته).[1] که چېرته یې د دې پر ځای بله د استفتاح دعا وویله چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ثابته وي نو باک نه لري، خو غوره دا ده چې کله دا دعا ووایي او کله بله، ځکه همدا د پیروی له اړخه بشپړه طریقه ده، بیا: أعوذ بالله من الشیطان الرجیم. او: بسم الله الرحمن الرحیم وایي، او فاتحه لولي لکه چې فرمایي:

(لَا صَلَاةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الكِتَابِ) ژباړه: «د هغه چا لمونځ صحیح ندی چې فاتحة الکتاب (الحمد لله) یې نه وي لوستلي»،[2] او وریسې په جهري لمونځ کې په لوړ اواز سره آمین وایي، او په خفیه لمونځونو کې یې په پټه وایي، غوره دا ده چې په ماسپښین، مازدیگر او ماخوستن لمونځونو کې له فاتحې وروسته له اوساط المفصل څخه یو سورت ولولي (یعنې له النبأ څخه تر اللیل پورې سورتونه) او د سهار په لمونځ کې د طوالو (یعنې له ق څخه تر البروج پورې سورتونو) څخه او په ماښام کې کله له طوالو څخه او کله هم له قصارو (له الضحی څخه تر الناس پورې سورتونو) څخه ولولي، تر څو پر هغو احادیثو عمل وشي چې په دې اړه راغلي دي.

٧ - د تکبیر په ویلو سره دواړه لاسونه د اوږو او یا غوږونو برابر پورته کوي، بیا رکوع ته ځي، په رکوع کې خپل سر د ملا سره برابروي او دواړه لاسونو پر زنګنونو داسې ږدي چې ګوتې یې سره جلا وي او په مطمئن ډول

---

[1] مسلم په: (399) شمیره روایت کړی.
[2] بخاري په: (756) شمیره روایت کړی.

رکوع کوي او په رکوع کې: (سبحان ربی العظیم) وایي، غوره طریقه دا ده چې درې ځلې او یا له دریو زیات یې تکرار کړي، سربیره پر دې ورته مستحب دي چې له دې سره:

(سُبْحَانَكَ اللهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، اللهُمَّ اغْفِرْ لِي) ژباړه: (اې زموږ ربه تا لره پاکي ده، او ټولې ستاینې تا لره دي، اې الله ما ته بخښنه وکړه)،[1]

٨ - له رکوع څخه سر راپورته کوي او دواړه لاسونه د اوږو او یا غوږونو برابر پورته کوي او وایي: ژباړه: «الله د ثنا ویونکي غږ واوریده». که چیرته امام او یوازې لمونځ کوونکی و، او د ودریدو پر مهال وایي:

(رَبَّنَا ولَكَ الحَمْدُ حَمْدًا كَثِيرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ مِلْءَ السَّمَوَاتِ ومِلْءَ الأرضِ، ومِلْءَ ما شِئتَ مِن شيءٍ بَعدُ) ژباړه: «ای ربه! ټولې ستاینې ستا لپاره دي، ډېرې پاکې او مبارکې ستاینې، د آسمانونو او ځمکې او د هغو تر منځ د مخلوقاتو د ډکوالي په اندازه، او په اندازه د ډکوالي د هغو شیانو چې تا وروسته غوښتي دي».[2]

خو که چیرته مقتدي و، نو د راپورته کېدو پر مهال: ربنا ولک الحمد، تر اخره پورې وایي لکه څنګه چې مخکې تېر شو، او کولی شي هر یو؛ امام، مقتدي او یا یوازې لمونځ کوونکی لاندې الفاظ ورزیات کړي:

---

1 بخاري، په: (817)، او: مسلم په: (484) شمېره روایت کړی.

2 بخاري، په: (711) شمیره، او: مسلم په: (598) شمېره روایت کړی.

(أَهْلَ الثَّنَاءِ والْمجْدِ، أَحَقُّ مَا قَالَ العَبْدُ، وكُلُّنَا لَكَ عَبْدٌ: اللَّهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ، ولَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، ولَا يَنْفَعُ ذَا الجَدِّ مِنْكَ الجَدُّ) ژباړه: «د ثنا او صفت ويونكي باور لري په هغه څه

چې بنده دې - وړاندې وويل- او مونږ ټول دې بندګان يو، منع كوونكى نشته هغه څه لره چې ته يې وركوې، او وركوونكى نشته هغه څه لره چې ته يې منعه كوې، او هيڅ شان او شوكت والا ستا په وړاندې بل شان او شوكت والا ته ګټه نشي رسولى».[1] نو دا (دعا) ښه ده او ثابته ده.

او د هر يو لپاره مستحب دي چې له ركوع وروسته هم لاسونه پر سينه كيږدي لكه څنګه يې چې مخكې ايښودلي وو، ځكه داسې څه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه د وائل بن حجر او سهل بن سعد رضي الله عنهما له حديث څخه ثابت دي.

٩ - په تكبير ويلو سره سجدې ته ځي، داسې چې كه يې كولى شول نو زنګونه به له لاسونو مخكې لګوي، خو كه ورته سخته وه نو كولى شي لاسونه له زنګونو مخكې ولګوي او د پښو ګوتې به يې قبلې لور ته تاوې كړې وي، د لاسونو ګوتې به يې هم قبلې لور ته غځولې وي او په اوو اندامونو به سجده كوي چې عبارت دي له: تندى سره له پوزې، دواړه لاسونه، دواړه زنګونه او د دواړو پښو د ګوتو تلې، او په سجده كې به: (سبحان ربى الأعلى) وايي، سنت طريقه دا ده

[1] مسلم په:(477) شميره روايت كړى.

چې درې او یا له دریو څخه یې زیات ځلي تکرار کړي، سربیره پر دې ورته مستحب دي چې ووایي:

(سُبْحانَكَ اللَّهُمَّ رَبَّنا وبِحَمْدِكَ، اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي) ژباړه: «پاکي ده تالره ای ربه، ته منزه او پاک یې، او ټولي ستاینې تا لره دي، ای الله ما ته بخښنه وکړه». او زیاته دعا دې کوي، دلیل یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم قول دی چې فرمایي:

(أَمَّا الرُّكُوعُ، فَعَظِّمُوا فِيهِ الرَّبَّ، وَأَمَّا السُّجُودُ، فَاجْتَهِدُوا فِي الدُّعَاءِ، فَقَمِنٌ أَنْ يُسْتَجَابَ لَكُمْ) ژباړه: [أما الركوع فعظموا فيه الرب، وأما السجود فاجتهدوا في الدعاء فقمن أن يستجاب لكم] ژباړه: «هر چې رکوع ده په هغې کې د الله رب العزت لويي بیانوئ، او په سجده کې په دعاء کې ښه کوښښ کوئ او دا ډیره وړ ده چې هغه دعا مو قبوله شي».[1]

او د خپل رب څخه د دنیا او آخرت د خیر سوال کوي، برابره خبره ده که لمونځ فرض، یا نفل وي، او د سجدې پر مهال به لاسونه له تشو، خېټه له ورنونو، ورنونه له پنډیو لرې ساتي، او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وینا سره سم به ښنګلې له ځمکې څخه پورته کوي لکه چې فرمایي:

(اعْتَدِلُوا فِي السُّجُودِ، ولَا يَبْسُطْ أَحَدُكُمْ ذِرَاعَيْهِ انْبِسَاطَ الكَلْبِ) ژباړه: [په سجده کې برابر اوسئ، او ستاسو څخه دې

---

1 مسلم په: (479) شمېره روایت کړی.

يو تن د سپي په څېر خپلې څنګلې نه غځوي)[1]
۱۰ - د تکبير په ويلو سره له سجدې سر راپورته کوي، چپه پښه غځوي او پرې کيني او ښۍ پښه دروي، دواړه لاسونه پر ورنونو او زنګنونو ږدي.

(رَبِّ اغْفِرْ لِي وَارْحَمْنِي وَاهْدِنِي وَارْزُقْنِي وَعَافِنِي وَاجْبُرْنِي) ژباړه: : (رب اغفر لي وارحمني واهدني وارزقني وعافني واجبرني) وايې: يعنې: «اى زما ربه! ماته ښښنه وکړه، پر ما رحم وکړه، ماته لارښوونه وکړه، روزي راکړه، له هرې بلا مې وژغوره او نيمګړتيا مې رفع کړه».[2] او په ناسته کې مطمئن کيني (داسې چې هر غړى خپل ځاى ته ورسيږي).

۱۱ - د تکبير په ويلو سره دويمه سجده کوي او هر هغه څه يې چې په لومړۍ سجده کې کړي دي پدې کې يې هم کوي.

۱۲ - د تکبير په ويلو سره سر راپورته کوي، لنډه ناسته کوي لکه د دوو سجدو په مينځ کې چې دي ته د استراحت جلسه وايي او دا ناسته مستحب ده، او که چېرته يې پرېښوده نو څه خبره نشته، او پدې ناسته کې هيڅ ذکر او يا دعا نشته، بيا دويم رکعت ته د زنګنونو په نيولو سره پورته کيږي؛ البته که يې کولى شول او که ورته سخته وه کولى شي پر ځمکه لاسونه ولګوي، بيا فاتحه او وريسې له قرآن کريم څخه يو

1 بخاري په: (788)، او مسلم په: (493) شميره روايت کړى.
2 ترمذي په: (284)، أبو داود په: (850) او ابن ماجه په: (898) شميره روايت کړى دى.

آسان سورت لولي، بیا هغه څه کوي چې په لومړي رکعت کې یې کړي دي.

۱۳ - که څیرته لمونځ دوه رکعتي و لکه: د سهار، جمعې او اخترونو لمونځونه، نو له دویمې سجدې وروسته به داسې کیني چې ښی پښه ودروي او چپه وغوړوي، ښی لاس پر ښي ورون کیږدي، د لاس ټولې ګوتې دې بندې کړي پرته له مسواکۍ څخه چې په هغې سره به د الله تعالی یووالي ته اشاره کوي، او که داسې یې وکړل چې د ښي لاس کچۍ او ورپسې ګوتې بندي کړي او غټه ګوته له منځۍ ګوتې سره حلقه کړي او په مسواکۍ سره اشاره وکړي نو ښه ده، ځکه دا دواړه طریقې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ثابتې دي، او غوره دا ده چې کله دا طریقه او کله بله عملي کړي، او چپ لاس به پر چپ ورون او چپ زنګون ږدي، او په دې ناسته کې به تشهد وایي چې په لاندې ډول دی:

(التَّحِيَّاتُ لله والصَّلَوَاتُ والطَّيِّبَاتُ، السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّها النبيُّ ورَحْمَةُ الله وبَرَكَاتُهُ، السَّلَامُ عَلَيْنَا وعلَى عِبَادِ الله الصَّالِحِينَ، أَشْهَدُ أَنْ لا إِلَهَ إِلَّا الله وأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ ورَسولُهُ) ژباړه: «ټول ژبني، بدني، او مالي عبادتونه الله جل جلاله لره دي، سلام او د الله رحمتونه او برکتونه دې وي پر تا اې پیغمبره، سلام دې وي پر مونږ او د الله پر نیکو بنده ګانو، ګواهي ورکوم چې له الله تعالی پرته بل هېڅوک د عبادت وړ نشته او ګواهي ورکوم چې محمد صلی الله علیه وسلم د الله بنده او رسول دی». بیا

وايي:

(اللَّهُمَّ صَلِّ علَى مُحَمَّدٍ وعلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كما صَلَّيْتَ علَى إبْرَاهِيمَ وعلَى آلِ إبْرَاهِيمَ؛ إنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ، وَبَارِكْ علَى مُحَمَّدٍ وعلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كما بَارَكْتَ علَى إبْرَاهِيمَ وعلَى آلِ إبْرَاهِيمَ؛ إنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ) ژباړه: (یاالله! پر محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه پرکورنی رحمت و اوروه، لکه پر ابراهیم علیه السلام او د هغه پرکورنی دې چې ورولی و، بېشکه ته ستایل شوی او لوی یې، یا الله ! پر محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه پر کورنی برکتونه و اوروه، لکه پر ابراهیم - علیه السلام - او د هغه پرکورنی دې چې ورولی و، بېشکه ته ستایل شوی او لوی یې).[1]

او په الله تعالی به له څلورو شیانو څخه پناه غواړي، نو وايي به:

( اللَّهُمَّ إنِّي أَعُوذُ بِكَ مِن عَذَابِ جَهَنَّمَ، وَمِنْ عَذَابِ القَبْرِ، وَمِنْ فِتْنَةِ المَحْيَا وَالْمَمَاتِ، وَمِنْ شَرِّ فِتْنَةِ المَسِيحِ الدَّجَّالِ) ژباړه: (ای الله زه پر تا پناه نیسم د جهنم له عذابه، د قبر له عذابه، د ژوند او مرګ له فتنې او د مسیح دجال له فتنې څخه)،[2]

بیا یې چې د دنیا او آخرت له ښېګڼو هر څه غوښتل هغه

1 بخاري، په: (797) شمېره، او مسلم په: (402) شمېره روایت کړی دی.
2 بخاري په: (1311) شمېره او مسلم په: (588) شمېره روایت کړی.

دعا دې وکړي او که د خپل مور او پلار یا نورو مسلمانانو لپاره یې دعا کوله نو باک نه لري، -برابره خبره ده که دا لمونځ فرض او یا نفل وي- د هغه څه پر بنسټ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د ابن مسعود رضي الله عنه په حدیث کې فرمایلي، کله یې چې هغه ته تشهد ورښود (نو ورته یې وویل چې) بیا یې چې هره دعا خوښه وه هغه دې وغواړي.

(ثُمَّ لِيَتَخَيَّرْ مِنَ الدُّعَاءِ بَعْدُ أَعْجَبَهُ إِلَيْهِ فَيَدْعُو) ژباړه: (بیا به له دعا څخه هغه غوره کوي چې ورته ښه ښکاري).[1] او په بل عبارت:

(ثُمَّ لِيَخْتَرْ مِنْ الْمَسْأَلَةِ مَا شَاءَ) ژباړه: (بیا چې هر څه غواړي هغه دې وغواړي).[2]

او دا د دنیا او آخرت ټولو ښېګڼو ته شاملیږي. ۱۷ - بیا ښي او چپ لور ته د السَّلامُ عَلَيْكُم ورَحْمَةُ اللهِ، السَّلام عَلَيْكُم ورَحمَةُ اللهِ. په ویلو سره سلام ګرځوي،

۱۴ - نو که چېرته لمونځ درې رکعتي و لکه د ماښام لمونځ، او یا څلور رکعتي و لکه د ماسپښین، مازدیګر او ماخوستن لمونځونه نو مخکی ذکر شوی تشهد؛ پر پیغمبر صلی الله علیه وسلم له درود سره یو ځای وایي، بیا د زنګنونو په مرسته دریږي، دواړه لاسونه د اوږو او یا غوږونو برابر پورته کوي او الله اکبر وایي او دواړه لاسونه پر سینې د پاسه ږدي لکه څنګه چې مخکې یادونه وشوه، او یوازې فاتحه لولي

1 نسائي په: (1298) شمیره روایت کړی.
2 مسلم په: (402) شمیره روایت کړی.

او که ځيني وختونه يې د ماسپښين په دريم او څلورم رکعت کې له فاتحې څخه زيات څه وويل، باک نه لري، ځکه په اړه يې له پيغمبر صلی الله عليه وسلم څخه د ابو سعيد په حديث کې راغلي چې بيا په ماښام کې له دريم او په ماسپښين، مازديګر او ماخوستن کې له څلورم رکعت نه وروسته تشهد وايي لکه څنګه چې په دوه رکعتي لمونځ کې يادونه وشوه، بيا ښي او چپ لور ته سلام ګرځوي، درې ځلې استغفر الله وايي او بيا وايي:

(اللَّهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ، تَبَارَكْتَ يا ذَا الجَلَالِ وَالإِكْرَامِ) ژباړه: (اې الله، ته سلام يې، او ستا له طرفه سلامتيا ده، ته برکت ورکولو والا ذات يې، اې د عظمت او عزت خاوند).[1] نو که چيرته امام وي، خلکو ته له مخ ورګرځولو وړاندې به ووايي:

(لَا إِلَهَ إِلَّا الله وحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَه، لَهُ المُلْكُ، ولَهُ الحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شيءٍ قَدِيرٌ، لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بالله، اللَّهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا أعْطَيْتَ، ولَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، وَلَا يَنْفَعُ ذَا الجَدِّ مِنْكَ الجَدُّ، لَا إِلَهَ إِلَّا الله، وَلَا نَعْبُدُ إِلَّا إِيَّاهُ، لَهُ النِّعْمَةُ وَلَهُ الفَضْلُ، وَلَهُ الثَّنَاءُ الحَسَنُ، لَا إِلَهَ إِلَّا الله مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ وَلَو كَرِهَ الكَافِرُونَ) ژباړه: (له الله

---

[1] مسلم، په:(591) شميره روايت کړی.

پرته بل معبود نشته، یوازې، بې شریکه دی، هغه لره پاچاهي ده او هغه لره ستاینه ده او هغه پر هر څه قادر دی، له ګناه څخه ګرځېدل نشته او د نېکو کارونو توفیق نشته مګر د الله په مرسته، ای الله! هر څه چې ورکوې څوک یې مخه نشي نیولی، او هر څه چې له چا څخه منع کوې څوک یې نشي ورکولی، فایده نه شي ورکولای خاوند د شرافت او مرتبې ته ستا د عذاب په مقابل کې شرافت او مرتبه د هغه. له الله پرته بل هېڅ معبود نشته، او مونږ له هغه پرته د بل هېچا عبادت نه کوو، هغه لره لورینې دي او هغه لره فضل دی، او د هغه لپاره ښه ستاینه ده، له الله پرته بل هېڅ معبود نشته، (مونږ) هغه ته په عبادت کې اخلاص کوونکي یو، که څه هم کافران (زمونږ دا کړنه) بده منې).[1]

درې دیرش ځلې (سبحان الله)، درې دیرش ځلې (الحمد لله) او درې دیرش ځلې (الله اکبر) وایي او د سلو د پوره کولو لپاره: (لا إله إلا الله وحده لا شریك له، له الملك وله الحمد و هو على كل شيء قدیر)، وایي، او د هر لمانځه پسې (آیة الكرسي)، (قل هو الله احد)، (قل أعوذ برب الفلق) او (قل أعوذ برب الناس) وایي، د پیغمبر صلى الله علیه وسلم د حدیث مطابق د سهار او ماښام لمونځونو پسې د دې سورتونو درې ځلې تکرارول مستحب دي، او دا اذکار ټول سنت دي، فرض نه دي،

او د هر مسلمان؛ نارینه او ښځینه لپاره مشروع دي چې د ماسپښین د لمانځه نه مخکې څلور رکعته او وروسته ترې دوه

[1] مسلم په: (402) شمیره روایت کړی.

رکعته، د ماښام د لمانځه پسې دوه رکعته، د ماخوستن د لمانځه پسې دوه رکعته او د سهار د لمانځه نه مخکې دوه رکعته لمونځ وکړي چې دا ټول دولس رکعته کيږي، او دې رکعتونو ته رواتب ويل کيږي، ځکه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم به چې کله مقيم و نو تل به يې کول، خو په سفر کې به يې د سهار له سنتو او وترو پرته نور پرېښودل، ځکه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم به د سهار سنت او وتر دواړه د اقامت او سفر دواړو حالتونو کې کول، او غوره دا ده چې رواتب لمونځونه او وتر په کور کې وشي، خو که په جوماتکې يې وکړل باک نه لري، دليل يې د رسول الله صلی الله عليه وسلم حديث دی چې فرمايي:

(أَفْضَلُ صَلَاةِ الْمَرْءِ فِي بَيْتِهِ، إِلَّا الصَّلَاةَ الْمَكْتُوبَةَ) ژباړه: (د سړي لپاره غوره لمونځ هغه دی چې هغه يې په کور کې کوي پرته د فرضي لمونځونو څخه).[1]

او دې رکعتونو ته پاملرنه جنت ته د داخليدو له اسبابو څخه دي، لکه څنګه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي:

(مَنْ صَلَّى اثْنَتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً فِي يَومٍ وَلَيْلَةٍ، بُنِيَ لَه بِهِنَّ بَيْتٌ فِي الجَنَّةِ) ژباړه: (چا چې په شپه او ورځ کې دولس رکعته نفل لمونځ ادا کړ، الله تعالی به ورته په جنت کې کور جوړ کړي).[2]

او که چيرته يې څلور له مازديګر نه مخکې، دوه له ماښام

---

1 بخاري په: (6860) شميره روايت کړی.
2 مسلم په: (728) شميره روايت کړی.

نه مخکې او دوه له ماخوستن څخه مخکې وکړل نو ښه ده؛ ځکه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پدې اړه حدیث ثابت دی، او که یې له ماسپښین څخه وروسته څلور او مخکې ترې څلور وکړل نو ښه ده، دلیل یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا قول دی:

(مَنْ حَافَظَ عَلَى أَرْبَعِ رَكَعَاتٍ قَبْلَ الظُّهْرِ، وَأَرْبَعٍ بَعْدَهَا حَرَّمَهُ اللهُ عَلَى النَّارِ) ژباړه: (څوک چې له ماسپښین نه مخکې څلور رکعته او له ماسپښین نه وروسته څلور رکعته لمانځه ته پاملرنه وکړي، الله تعالی به یې په اور حرام کړي).[1] معنا دا چې له ماسپښین نه وروسته په راتبه سنتو دوه رکعته ورزیاتوي؛ ځکه چې راتبه سنت ترې څلور مخکې او دوه وروسته دي. نو کله چې وروسته ترې دوه ورزیات کړي نو د ام حبیبې -رضي الله عنها -په حدیث کې یاد شمېر تر لاسه کیږي.

الله تعالی توفیق ورکوونکی دی، وصلی الله وسلم علی نبینا محمد بن عبد الله وعلی آله وأصحابه وأتباعه بإحسان إلی یوم الدین،،،

***

[1] أحمد په: (25547)، او ترمذي په: (393) شمېره او أبو داود: په (1077) شمېره روایت کړی.

رئاسة الشؤون الدينية
بالمسجد الحرام والمسجد النبوي

# رسالة الحرمين

## د حرمين پيغام

د مسجد الحرام او مسجد نبوي زيارت كونكو لپاره لارښود
مواد په ژبو كي

978-603-8517-55-0